ناول

# د هیلو اتل

ستونزي مو پر شگو او بریالیتوبونه مو په مرمر ډبره ولیکئ!

لیکوال: فرهاد احمد صدیقي



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هيلو اتل

## ليكوال: فرهاد احمد صديقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړني

د کتاب نوم: د هیلو اتل

لیکوال: فرهاد احمد صدیقي

کمپوز چاري: فرهاد احمد صدیقي

ډیزاین چاري: فرهاد احمد صدیقي


چاپ کال: 1403ل – 2024م

د ټیلیفون شمېره: 0700307564

ایمېل: farhadsadiqi1874@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالي

## زما اتل زما پلار جان ته!

## چي د ژوند په هره لوړه ژوره کي يې زما

## لاس نيوی کړيدي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

نحمده و نصلي علي رسوله الكريم اما بعد فاعوذ باالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم په لومړي سر کي د الله(ج) شکر ادا کوم چي ماته يې خپل د لومړني کتاب د پوره کولو قوت راکي.

په دوهم قدم کي بايد ووايم! دا چي په اوس وخت کي د ميني او عاشقي کتابونه په خپريدو دي. چي زموږ ټولنه د خرابي و کندي ته کشوي.

ما وغوښتل چي داسي يو کتاب وليکم چي د ټولني ځوانانو ته يو ډول قوي روحيه ورکړي. چي څنګه کولاي سي د مشکلاتو په وړاندي مبارزه وکړي. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسي مرکزي کرکټر اتل صدیقي په خپل ژوند کي له ډیرو مشکلاتو سره مخ کیږي. چي په وړاندي یي مبارزه کوي تر ټولو غټ چیلیج د ده په وړاندي غربت دي. دوهم قدم کي زموږ د وطن ځیني نالایقه قصابان ډاکټران دي چي مقصد یي خالص د پیسو شکول دي. زموږ وطن ډیر د زړه سوي دي. زما هغه ډاکټران چي مقصد یي د پیسو شکول دي دا توصیه ده چي دوي دي یوځل خپل ګریوانو ته سرونه ورکښته کړي داسي فکر دي ووهي چي د ده لور، مور او یا خور مریضه وي دی یي ډاکټر ته بوزي هلته ده ته پرله پسې نسخې ورکوي. او دده سره په جیب کي پیسي نه وي نود ده به څه حالت وي او اخیر هم په دي دوا سره یي ښه وه نه سي نو زما وه دا ډاکټرانو ته دا توصیه ده چي دوي دي د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت پر خپل ځان قیاس کړي او هیڅ کله د دي د ډاکټري پر ځاي قصابي نه راباسي.

په اخير کي باید و وایم نوموړي کتاب چي ستاسو په لاس کي دي ما د ډیرو مشکیلاتو سره لیکلي دي هر څه شوق غواړي او همدا شوق و چي زه یې ددې کتاب لیکلو ته و هڅولم. په پای کي له خپل پلار جان څخه مننه کوم چي زما سره یې د ژوند په هره لوړه او ژوره کي کومک کړي دی زما اتل زما پلار جان! مننه او بیا هم مننه!

**لیکوال: فرهاد احمد صدیقي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

د خلګو شورماشور و هر يوه به کوښښ کوي چې تر بل مخته سي تر څو ستيج ښه سم ووينې. پدې وخت کي نطاق د ستيج سره را ښکاره سو. په ميک کي يې په لوړ ږغ ورېل ښاغلو ميلمنو له انتظار څخه مو ډيره مننه پروګرام پنځه دقيقې وروسته شروع کوو.

تقريباً پنځه دقيقې وروسته نطاق پر ستيج راښکاره سو او په لوړ ږغ يې په ميک کي وويل زموږ د نن ورځي پروګرام د قران کريم په څو مبارکو اياتونو سره شروع کوو نو د قرانکريم د تلاوت لپاره و قاري يوسف ته بلنه ورکوو تر څو د ستيج مخ ته راسي او زموږ پروګرام ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرانکریم په ځو مبارکو ایاتونو سره ښکلا ور وبخښي. وروسته نطاق ستېج ته په نږدې پرته چوکۍ کې کښېنستي او یو ځوان ستېج ته ور پورته سو او په ډېر زړه وړونکي ږغ یې د قران کریم د اقرأ سورت ځو مبارک ایاتونه تلاوت کړل. وروسته له ستېج څخه راتأ سو.

ـ نطاق د ستېج مخته یو ځل بیا راغلي او د ځینو تشریفاتي خبرو وروسته یې وویل!

ـ درنو مېلمنو زموږ پروګرام نن د یو داسي شخص په باره کي نیول سویدي چي دې وطن ته یې ډېر زیات خدمتونه کړیدي چي یو له هغو خدمتو څخه د اُمید هسپتال جوړول دي چي مفت دي او بل لوي خدمت یې د اتل خیریه بنسټ جوړول دي. دا چي دا نوموتي ډاکټر له کومو مشکلاتو سره مخ سویدي دا به د ډاکټر صاحب اتل صدیقي له خپلي خولي څخه واوري. او اوس بلنه ورکوو ډاکټر صاحب اتل صدیقي ته تر ځو د ستېج مخ ته راسي او موږ او تاسي ته د خپل ژوند غمجن داستان وړاندي کړي.

ډاکټر صاحب اتل صدیقي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالار د تماشاتیانو چکچکو ونیوي پر ستیج باندي سپین رنګه دریشي والا سړی را ښکاره سو وروسته یی د مننی په ویلو سره وویل د خوشحالۍ په خوند هغه وخت پوهیږې چې غم او سختۍ دربانډي تیري سي. زموږ کورني د پنځو کسانو څخه جوړه وه پلار جان مي ایمل مور جانه حسنات خور مي خاطره او ورور مي الهام . زموږ کورني د غریبي طبقې څخه وه پلار جان مي سپین ږري و او چوکیداري یې کول موږ خپل د کور ټول عاید د یو دوکان څخه پوره کوي چي موږ ته زموږ د نیکه څخه راپاته و هغه دوکان مو په ۳۵۰۰ افغاني په کریه ورکړي و او خپل دکور عاید مو په پوره کوي پلار جان مي د تعلیم ډېر زیات شوقي و همېشه به یی ویل چي که ماښام ته ډوډۍ و نه لرم خو تاسي به تعلیم نه پرېږدي پلار جان ته مي دي اللّه ډېر عمر ورکړي همېشه به یی دا خبره د نصیحت پر ډول راته کوله اتله زویه په ژوند کي د مشکلاتو له فشار څخه ونه بېرېږې پیاد ولره چي فشار سکاره په الماس بدلوي!

دا چي زه نن زه دلته ستاسو ومخته ولاړ یم دا ټوله زما د پلار جان برکت دي. پلار جان مي زه په ویسا اکاډمي کي شامل کړي وم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو شخصي ليسه ده کله چي يی زه په مکتب کي شامل کړم نو راته وې ويل زويه که پر ځان د زړورتيا خطر ونه منې خپل هدف ته نسې رسېدلای. کوښښ وکړه هدف وټاکه او د هدف د لاسته راوړلو لپاره وجنګېږه. پلار جان مي پر موږ باندي د عصري زده کړو تر څنګ ديني زده کړي هم کولې. پلار جان مي زموږ سره واقعاً زياته خواري کښل. په اووم صنف کي مي له مکتب سره يو ځای سنټران هم شروع کړل د شپې تر اتو بجو به مي درسونه ويل کله چي مو د مکتب اووم صنف په خلاصيدو سو نو د افغان ترک مکتب د ماګس امتحان اعلان سو نو د پلار جان سره ورغلم تر څو داخله را وکړي. په مکتب کي يی د امتحان وخت او ورځ را وښووله . د ټاکل سوې ورځې څخه يوه ورځ مخکي مي د شپې تر نهو بجو پوري درس ووايه وروسته مي له خدايه په امتحان کي کومک وغوښت نور بيده سوم .

سهار پر پنځه بجې راکښېناستم لمونځ او يوه سېپاره وظيفه مي وکړل وروسته مي د مکتب د امتحان لپاره ځان اماده کړ پر شپږ نيمي بجې مي ناشته وکړل او نور د مکتب پر خوا روان سولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکتب ته چي ورسېدم نو د امتحان صحنې ته ننوتم تلاشي یې وکړل جوس، کېک، پنسیل، پنسیل پاک او کلمکت یې راکړل او د امتحان صحنې ته ننوتو هلته په هر صنف کي استاد ولاړ و. ټولو ته یی پارچې ورکولې . پارچه مي تري واخیستل چوکي یی راته په نښه کړل.

امتحان مي ورکړ یوه هفته تېره سوه د جمعې ورځ وه مور مي د سهار ناشته تیاره کړه دسترخوان هوار سو ډوډي مو پر کښېښوول‌ه. د ډوډي په خوړو مو شروع وکړل پدې وخت کي مي د پلار ټیلیفون ته زنګ راغلي پلار مي اوکې کړ له هغې خوا تر سلام او ستړې مسي وروسته یې ورته وویل چي له افغان ترک مکتبه یې زنګ وهلي دي که تکلیف نه وي یو ځلي دي مکتب ته راسي پلار مي ورته وویل چي سمه ده نور یې ټلیفون قطعه کړ راته وې ویل! هله اتله زویه ژر سه چي مکتب ته یې غوښتي یو مور مي ژر ولاړه سوه نوي کالي چي پلار مي په اختر کي ځانته او ماته اخیستي وه راته راواخیستل. ژر ژر مو کالي الیش کړل سړک ته راووتلو هلته مو تر مکتبه یو ټکسي کرایه کړل مکتب ته چي ورسیدو نو هلته یی د انتظار په اطاق کي کښېنولو چای خانه والا دوه ګیلاسه چای راوړلې تقریباً پنځه دقیقې وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکتب د مدیر سکرټر په دروازه کي را ښکاره سو له موږ دواړو سره یې سترې مسې وکړل وروسته یې وویل ستاسو زوي زموږ مکتب ته په اوله درجه کامیاب سویدي او موږ هم ده ته د مکتب لخوا سل فیصده بورس ورکوو! بېخي ډېر خوشحاله سولم د پلار جان د خوشحالي خو مي حد نه کېده وروسته د مکتب سکرټر د قرارداد پاڼي د لاسلیک لپاره پلار جان ته ورکړلې پلار جان مي د قرارداد ورقي امضا کړلې وروسته کور ته راغلو پر ټوله کورني مو دغه زیري وکړ ماښام ته مي د امه خاوند هم زنګ راووهلي او ویې ویل مبارک مو سه د اتل جان د اول نمره ګي عکس پر فېسبوک خپور سویدي. پلار جان مي ډېر خوشحال سو. ماښام بیده سولم.

سهار وختي مي مور راویښ کړلم وې ویل پورته سه لمونځ وکړه را ولاړ سولم اودس او لمونځ مي وکړل یوه سپپاره تلاوت مي وکړ وروسته مي د مکتب دریشي پر تن کړل. او مکتب اوله ورځ مي پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

(۴ کاله وروسته)

د سه شنبه ورځ وه ماښام مي تر درو بجو پوري مطالعه کړې وه نو پدې خاطر سهار ناوخته راکښېښستم ژرژر مي دریشي واغوستله دباندي راووتم مور مي راته وویل اتله زویه راسه ناشته وکړه بیا ولاړ سه! ومي ویل!

ـ مورجاني راباندي ناوخته دي وې ویل یوه دقیقه صبر وکړه ومي ویل سمه ده مور مي خوني ته ننوتل. زه منتظر سوم مور مي د خوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووته یو تور پلاستیک یې په لاس کې و راته وې ویل پدې کې مې یو څه چپس او ډوډي درته ایښي دي مکتب ته چې ورسېدلې نو چې وخت چې دي پیداکړ ویې خوره مور جانه مې په غېږ کې ونیول مننه مې تري وکړه! وروسته په تېزي سره راووتم یوې ټکسي ته مې لاس ورکړ ټکسي راته ودرېدل وروختلم د مکتب ادرس مې ورکړ تقریباً په پنځلس دقیقو کې ورسېدلم موټړوان ته مې کرایه ورکړل مکتب ته ننوتم مکتب د ګلانو سهارني وږم پر سر اخیستی و د خپل صنف په لوري ولاړم استاد صنف ته راغلي و اجازه مې واخیستله او پر چوکي کښېنستم استاد خپل درس ته ادامه ورکړل. یو لس دقیقې وروسته دروازه وټکېدله استاد ږغ کړل راځئ! دروازه خلاصه سول استاد د ولاړ سئ! ږغ وکړ ټوله شاګردان ولاړ سول سرمعلم صنف ته راننوتي مورږ کښېنستلو! سرمعلم زمورږ د تشویق دپاره یې یو څه خبري وکړلی وروسته یې د امتحاناتو یادونه وکړله ویې ویل درې ورځې وروسته مو امتحانونه دي بیا یې زیاته کړل د امتحاناتو تقسیم اوقات د باندي زړیږي نور د صنف څخه ووتي استاد خپل درس ته ادامه ورکړل خپل پاته درس یې خلاص کړ د تفریح زنګ ووهل سو دباندي ووتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابچه مي هم د ځان سره واخیستل چي تقسیم اوقات د ځان سره ولیکم د نوټیس بورډ سره د شاګردانو ډېر رش و. بیرته صنف ته راغلم تر څو په رخصتي یې له تختې څخه ولیکم او یا یې هم په صنف کي د یوه شاګرد څخه ولیکم . د تفریح د خلاصېدو زنګ ووهل سو د فزیک استاد صنف ته راننوتي استاد چي درس خلاص کړ د تفریح زنګ ووهل سو. استاد د صنف څخه ووتي خالد ولاړ سو تر څو د صنفه ووځي! ومي ویل خالده! خالده! تا تقسیم اوقات ولیکی ویې ویل هو ومي لیکي ورته ومي ویل را یې که! خالد تر میز لاندي کتابچه راواخیتل را یی کړه په تقسیم اوقات کي لومړی امتحان د ریاضي و بیا د فزیک بیا د کیمیا او همداسي نور .... کور ته ولاړم لمړی ورغلم د پلار جان لاسونه مي ور مچ کړل وروسته د مورجاني خواته ورغلم د هغې لاسونه مي هم ور مچ کړل وروسته د خپل خوني پر خوا ولاړم هلته مي دریشي الیشه کړل وروسته د پلارجان خوني ته ورغلم هلته مي د کټ لاندي ترموز راواخیست. تقریبا نیم ساعت وروسره کښېنستم وروسته خپلي خوني ته ولاړم د امتحانونو لپاره پلان جوړ کړ. پلان په داسي و چي هره شپه باید تر یوولسو بجو درس ووایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته بايد هر سهار پر پنځو بجو راکښېنم او تر اوو بجو پوري به درس ووايم. امتحانات راورسېدل اول درې امتحانه مي په ښه ډول ورکړل د يک شنبه ورځ وه امتحان چي مي ورکړ نو کور ته ولاړم هلته مي د پلار جان لاسونه ور مچ کړل وروسته د مور جاني و خواته ورغلم کله مي چي د مور جاني لاسونه ور مچول نو پر بدن باندي مي يې ډېره شديده تبه احساس کړل د مور جاني پر تندي مي لاس ور کښود ډېر شديد ګرم و او مړه مړه خوله هم پر پرته وه ورته ومي ويل مور جاني ايا صحت مو ښه دي وې ويل هو اتله زويه ښه يمه ته راغلې امتحان دي سم ورکړ ومي ويل هو مور جاني سم مي ورکړ وې ويل ښه اوس ورسه دريشي دي اليشه کړه ومي ويل سمه ده مور جاني! د خوني پردې مي کش کړلې او پر خپل ځای پرېوتلم. د خوني دروازه خلاصه سول مور مي خوني ته راننوتل وې ويل اتله زويه چاى درته راوړم که بيدېږې ومي ويل يا مورجاني زه به يو ساعت بيده سم! وې ويل سمه ده! وروسته مي مور له خوني څخه ووتل او زه بيده سولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

د لمر د وړانګو ړنا مي پر سترګو ولوېدل سترګي مي خلاصي کړلې مور جاني مي د خوني پردې کش کړلې وې ويل اتله زويه ولاړ سه د مازديګر لمونځ وکړه چي قضا کيږي ومي ويل سمه ده ولاړ سوم دباندي سراى ته راووتلم اودس مي وکي بيرته خوني ته راغلم لمونځ مي وکړ. د جغرافيه د نوټ کتابچه مي له ځان سره راواخيستل د پلار جان خوني ته ورغلم هلته مي کتاب وکتي.

د ماښام اذانونه شروع سول مسجد ته مي د تګ تابيا ونيول. د جماعت څخه چي راغلم د چايو ګيلاس مي د ځان لپاره ډک کړ د مور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږغ مي سو ويل يې اتله زويه! يو ځل اشپز خاني ته راسه ومي ويل درغلم ويې ويل زويه مانښام ته يو څه ترکاري، يو پاو مستې او پينځه ډوډۍ درسره راوړه او د سر درد يو پاکټ گولي هم درسره راوړه ومي ويل سمه ده ولاړم تر څو د دوکان څخه دا شيان را واخلم.

دوکـان څخـه مـي ټوله شـيان را واخيسـتل او د درملتـون پـر خـوا روان سـولم پـه لاره کـي مـي ټليفـون پـه جيـب کـي و شرنگيـده ټليفون مي د جيب څخـه راوکښـي پـلار مـي وو اوکـې مـي کـړ پـلار مـي وويـل اتلـه زويـه نـن د يـو ملگـري پـه کـور کـي ميلمـه يـم او ناوختـه درځـم مـا ويـل سـمه ده درملتـون څخـه مـی دوا او نـانوايي څخـه مـي ډوډۍ را واخيسـتل او کورتـه ولاړم ډوډۍ مي مور تـه ورسـول او خـپلي خـوني تـه ولاړم تـر څـو د سبا لپـاره د مکتـب تقسـيم اوقـات جـلا کـړم د خـوني دروازه خلاصـه سـول او کـوچنۍ خـور خـاطره مـي پـه دراوزه کـي را ښـکاره سـول ويـې ويل اتله وروره په دا يـو څـو سـوالونو کـي مشـکل لـرم ومـي ويـل راسـه خـوري چـي در ويـې ښـيم د خـور د سـوالو مشـکل مـي ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



حـل کـړ نـور دا ولاړل او مـا خپـل کتابونـه سره ټـول کـړل او د ریـاضي د کتـاب د سـوالونو پـه حلولـو اختـه سـولم د ماخسـتن تـر لمانځـه پـوري مـي کتـاب وکتـی او د لمانځـه تـر ادا کولـو وروسـته کورتـه ولاړم مـور مـي ډوډۍ سـمه کـړل زمـوږ عـادت داسي وو چـي ډوډۍ بـه مـو تـر لمانځـه وروسـته خـوړل نـور مـي نـو ځـان خـوب تـه امـاده کـړی سـهار پـر پینځـه بجـې د لمانځـه د ادا کولـو لپـاره را ولاړ سـوم اودس مـي وکـړ نیمـه سـېپاره تـلاوت مـي وکـړ او د تـلاوت څخـه وروسـته مـي خـور تـه د سـترخوان د راوړلـو وویـل هغـې سـترخوان راوړ او د سـهار لـه ناشـتې وروسـته مـي لباس تبـدیل کـړ او سـړک تـه را ووتلـم تـر څـو یـو ټیکسيـ ونیسـم پینځـه دقیقـي بعـده یـو ټیکسيـ راغلـل او مکتـب تـه ولاړم مکتـب تـه چـي ورسـیدم ټولـه شـاګردان دبانـدي ولاړ دي او چپټـران یـې په لاس کـي دي زه هـم ولاړم د کـانتین څخـه مـي یـو بوتـل اوبـه را واخیستلې نور مي چپټر را واخیستي تکرار مي پر وکړی.

پـه دا وخـت کـي پـه لاوډ سـپیکر کـي ږغ وسـو چـي لـس دقیقـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعـده امتحـان شروع کیږي مـا هـم د امتحـان لپـاره امـادګي ونیـول او د امتحـان وسـایل مـي سره امـاده کـړل د ریـاضي امتحـان مـي په ډیـر ښـه شـکل سره ورکـړ او همـدا ډول د بیولـوژي امتحـان مـي هم ورکړ پـه سـبا د کیمیـا امتحـان وو کـور تـه ولاړم د مـور مـي تبـه وه د سر د درد ګولۍ مي ورکړل نسول سمه.

مانبام مـي یـو ټیکسي- را وګرځـول او مـور مـي مهمنـد هسـپتال تـه ورسـول هلتـه یـې سـیروم ور چالانـده کـړی خـاطره مـي ورتـه راوغوښـتل زه هـم ولاړم او د کیمیـا کتـاب مـي را واخیسـتی تـر څـو یـو شـی ورځخـه زده کـړم پـه مـور مـي ډیـر فکـر خـراب و تقریبـا د شـپې یـولس بجـې وې چـي ډاکټرانـو رخصـت راکـړی کورته راغلـو د شـپې تـر یـوې بجـې پـوري مـي کتـاب کتـی او نـور بیده سولم.

سـهار تقریبـاً پینځـه نیمـي بجـې وې چـي راویښ سـولم اودس او لمونځ مـي وکـړی او خـدای (ج) ځخـه مـي خـپلي مـور تـه د شـفاء غوښـتنه وکـړل او ورغلـم د مـور پوښـتنه مـي وکـړل پـر تنـدي مـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـې لاس ور کښيښـود تنـدی يـې لـږ تـود وو او مـړه خولـه پـر پرتـه وه ومي ويل اوس څنګه يـې ويـې ويـل تـر ماښـام اوس ښـه يـم بيـا يـې وويـل اتلـه زويـه ماښـام ډيـر راسره پـه تکليـف سـوې ايـا د امتحـان امـادګي دي نيـولې ده؟ مـا ورتـه وويـل هـو مورجـاني او دا هـيڅ تکليـف نـه وو خـداي (ج) دي تاتـه شـفاء درکـړي نـور د مکتب پر خوا روان سوم .

مکتـب تـه ولاړم او امتحـان مـي ورکـړ د مکتـب څخـه د وتلـو پـه حـال کـي وم چـي خالـد را نـاره کـړل ومـي ويـل څـه وايـې؟ ويـې ويـل څـه شـی کـوې چـي دونـه وختـي ځـې پـه درس کـي يـو څـه مشـکل لـرم او د ريـاضي اسـتاد ويـل چـي د ريـاضي نمـرې را باسم يـو څـه وخـت بـه ورتـه منتظـر سـو ومـي ويـل کومـه پوښـتنه دي درلـودل؟ پوښـتنه يـې وکـړل پوښـتنه يـې پـه پولينـوم کـي وه پوښته مي ورجـواب کـړل لـس دقيقـي وروسـته يـې نمـرې وځړولـې ورغلـم چـي نمـرې وګـورم پـر نمـرو ډيـر رش وو او هـر شـاګرد غوښـتل چـي خـپلي نمـرې وګـوري هـر شـاګرد چـي بـه را تيـر سـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر به يې طبيعت خراب وو ځکه چې نمرې به يې ډيري کمي وې زما هم ډير زړه غوښتی تر څو نمرې وگورم چې څو نمرې به مي وړي وي کله چې وار ماته را ورسيدی خپلي نمرې مي وکتلې ټاف مي وړي وې ډير خوشحاله سولم او غوښتل مي چې ژر خپل کور ته ورسيږم تر څو پر خپلي مور جاني او پلار جان باندي د خوشحالۍ زيری وکړم کورته چي را ورسيدم پلار جان او مور جاني ته مي وويل بيخي ډير خوشحاله سول.

زموږ امتحانو همداسي جريان درلودی چي ټوله شپاړلس مضمونونه وه د پينځلسم مضمون امتحان د پښتو و. امتحان مو ورکړ. د امتحانه چي راووتم نو په جيب کي مي ټليفون وشرنگېدي کله مي چي اوکې کړ د خاطره چيغه مي واوريده! په ډيره وار خطايۍ مي وويل خاطره خوري خيرت دی ولي چيغي وهې؟ ويې ويل اتله وروره ژر ځان را ورسوه مور پرته ده ږغ نه کوي او سترگي يې سپيني دي.

ډير وار خطا سوم خور ته مي د وار خطايي د کمولو لپاره يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دلاسايي ورکړل ورته ومي ويل مه ور خطا کيږه د کوڅي په سر کې يم دا دی در رسيږم ژر روان سولم د ډيري وارخطايۍ څخه لار راڅخه ورکه سول چي څه وکړم سړک ته چي ورسيدم ټيکسي- ته مي لاس ور کړی او د کور پر خوا روان سوم کور ته چي ورسيدم ژر مي خور ته وويل مور راسره پورته کړه د شفاء خاني پر خوا ځو ويې ويل سمه ده.

شفاء خاني ته چي ورسيدلو کټ يې راوړی مور مي يې پر پريستل او عاجل اطاق ته يې دننه کړل د اطاق مخته ورته منتظر سولو تقريبا لس دقيقي وروسته يو نرسه په منډه راغلل ويې ويل ستاسو پر مور د زړه حمله راغلې ده و د محاسبې اطاق ته ورسئ هلته خبره ورسره خلاصه کړی مور که دي تر مابنامه عمليات نسول د مرګ خطر ورسره تړلی دی ډير وارخطا سوم ومي ويل سمه ده ژر د محاسبې اطاق ته ورغلم.

هلته د کمپيوټر کار خواته ورغلم کومه ورقه چي نرسي راکړې وه هغه مي ورکړل کمپيوټر کار تقريبا پينځه دقيقې په کمپيوټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختــه وو او ویــې ویــل د زړه عملیــات پــه دوه لکــه افغــانۍ کیــږي او پسيـ زیاتـه یـې کـړل ستاسـو مـریض بایـد اتـه شـپې دلتـه بسـتر سي تر څـو ښـه سي ومـي ویـل شـپه پـه څـو ده ویـې ویـل شـپه پـه دوه نـیم زره افغـانۍ ده ومـي ویـل کـه یـو څـه ښـه پکښـي وکـړې ویې ویل کـه پیسـې نـه تحویلـوی او مـریض مـو نـه عملیـات کـوی نو مریض مو خارج کړی. حساب مي در کړی نور تلای سئ!

له ډیره قهره مي د مـخ رنـګ ورتـه واوښـت خـو څـه مـي کـړي وای دلته مي مـور پـر بسـتر پرتـه وه څـه مـي نسـوای ورتـه ویـلای خیـر راووتم او حیـران وم چـي څـه وکـړم زمـوږ کـورنۍ د غریبـي طبقـې څخــه وه پــلار مــي چوکیــدار وو او مــوږ خپلــه ګــوزاره پــه یــوه دوکان کـول چـي لـه نیکـه څخـه را پاتـه وو د هغـه دوکـان کرایـه د میاشـتي درې نـیم زره افغـانۍ وه او پـلار مـي پـه چوکیـدارۍ کـي درې زره افغانۍ اخیسـتلې پـه همدغـه پیسـو مـو کـور چـلاوه او نـه پوهیدم چي دومره پیسې زه له کومه کړم.

پــه دا وخــت کــي مــي پــلار پــه دروازه کــي راښــکاره ســو او ویــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل اتلـه زويـه پـه مـور دي څـه سـوي دي؟ خـاطره زنـګ راووهـه چـي پـلاره يـو ځـل مهمنـد هسـپتال تـه ځـان را ورسـوه مـور لـږ ناجوړه ده او نور يې ټليفـون بنـد کـړ ورتـه ومـي ويـل بابـا پـر مـور د زړه حملـه راغلـې ده او ټولـه قصـه مـي لـه سره تـر پايـه ورتـه وکړل.

پـلار مـي تـر ډېـر فکـر کولـو وروسـته سر را پورتـه کـړی او ويـې ويل زويه بلـه چـاره نلـرو کـاش هغـه دوکـان خـرڅ کـړو ومـي ويـل صحيح ده ويـې ويـل تـه دي دلـې مـور تـه پاتـه سـه زه بـه د دوکـان چاره ور وکړم ومي ويل سمه ده.

د مـازديګر پينځـه بجـې وې چـي پيسـې يـې را ورسـولې ورتـه ومـي ويـل دوکـان دي خـرڅ کـړ ول هـو دوکـان مـي پـه پينځـه لکـه افغـانۍ خـرڅ کـړ د پيسـو څخـه مـي دوه نـيم لکـه افغـانۍ را واخيسـتلې او د محاسـبې اطـاق تـه ورغلـم. پيسـې مـي کمپيـوټر کار ته ورکړلې.

کمپيـوټر کـار راتـه وويـل! پـر څلـور بجـې يـې عمليـات ورکـوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومـي ویـل سـمه ده پـه ځـان نـه پوهیـدم چـي څـه وکـړم د خـدای (ج) څخه مي مور ته شفاء غوښتل.

سـبا مـو د تـاریخ اخـري امتحـان وو کتـاب مـي را واخیسـتی او ومـي ویـل تـر څـو چـي مـي د مـور عملیـات خلاصـیږي تـر هغـه وختـه خـدای دي وکـړي یـو شـی زده کـړم پـر یـو کـټ کښینسـتم پیـنځلس دقیقـې وروسـته یـو نرسـه پـه نیـولې سـاه راغلـه او ویـې ویـل دحسـنات پـه نـوم مـریض ستاسـو سره دی؟ ومـي ویـل هـو ویـې ویـل (O-) وینـي تـه عاجـل ضرورت دی ژر یـې د وینـي لـه بانک څخـه راوړه ومـي ویـل سـمه ده هلتـه چـي ولاړم هغـوی راتـه وویل هلته پیسې تحویل کړه.

ومي ویل ستاسـو پـه سـینو کـي زړه سـته کـه یـا هلتـه یـو انسـان د مـــرگ سره لاس او گریـــوان دی او تاســـو د پیســـو پـــه غـــم کـــي یاســت؟ ویـې ویـل پـه نـورو شـیانو مـو سر نـه خلاصـیږي پیسـې تحویل کړه او وینه واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زر افغانۍ يوه خلته وينه وه. پيسې مي تحويل کړلې او وينه مي ورووړل څه وخت وروسته نرسه بيا را ووته او ويې ويل دوې خلتې وينه نوره راوړه ومي ويل دا ده يوه خلته مي راوړل بله بيا ولي غواړې؟

په وار خطايي او بنده، بنده ژبه يې وويل ه..ه...هغ....هغه پ... په غلطي کي د ډاکټر څخه د زړه يو رگ ووهل سو اوس وينه په ډير شدت سره روانه ده.

د نرسي څخه مي مخ واړوی او د محاسبې اطاق ته ورغلم. دا چي ډير وار خطا او په غصه وم له ډيره قهره مي دروازه و نه ټکول کمپيوټر کار د ميز تر شا ناست وو او ټليفون يې غوږ ته نيولی وو او په زوره يې خندل له ورايه معلوميدل چي د يوې ښځي سره بڼغيږي کله چي زه ورغلم ټليفون يې ډير ژر له غوږ څخه ليري کړ او ويې ويل

ـــ د ادب او اخلاقو په نوم يو شی پيژنې که يا؟ سيده را روان يې دروازه ولي نه ټکوې بې ادبه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ويل!

ــ يا نه يې پيژنم

کمپيوټر کار لـه ډيـري غصې خخـه سـور او شـين واوښـتی او ويـې ويل

ــ ووځه بد اخلاقه!

دا چې زه هم ډير په غصه وم نو خوله مي پر را خلاصه کړل!

ــ د ځانه دي څه فرعون راتـه جوړ کـړی هـر يـوه تـه چـې ورسـې يـا نمـرود وي يـا فرعـون وي د پيسـو شـکول خـو مـو داسي زده دي دا کـار بيـا ولي نسـئ کـولای د انسـان خخـه مـو حيـوان جـوړ کـړی دی او يـوازي پـه اختـه ياسـت چې هغـه پاتـه پيسـې واخلـی که پاته سو پاته سـو او کـه نسـو پاتـه واياسـت وخـت او وعـده يـې پوره وه د پيسـو شـکول خـو مـي داسي زده دي کـاش چـې يـو څـه احتياط مو هم زده وای.

کمپيـوټر کـار چـې د غصـې خخـه سـور او شـين اوښـتی وو ويـې ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ووځه بد اخلاقه! ورته ومي ویل!

ــ بـد اخلاقـه تـه ماتـه وایـې کـاش چـي تاسـو خپلـه لـږ اخـلاق درلودای او بیا مو بل ته نصیحت کړی وای

ـــ کمپیـوټر کـار نـارې کړلـې! څـه شي غـواړې؟ لکـه مـچ پـه غـوږ کي مي را بوڼبړې. ورته ومي ویل!

ــ تاسو د پیسو له اخیسـتلو بـل کـوم کـار لـرئ پیسـې مـي پـر میـز ورته کیښودلې او ومـي ویـل! بیـل ولیکـه ده هـم پـه ډیـر قهـر سره پیسې واخیستې او بیل یې پر میز کښیښودی.

ــ ویې ویل! ځه له مخ څخه مي چپ سه!

د پسخند پر ډوله مي ور غبرګه کړل!

ـــ تـه نـور بـیلان امـاده کـوه زه دربانـدي راځـم ده پـه درد راتـه وویل

ــ ژر ووځه!

وینـه مـي را واخیسـتل او نـرس تـه مـي ورکـړل تقریبـا دوه سـاعته وروسـته د عملیـات پـر سر زرغـون ګـروپ ولګیـدی زړه مـي ډیـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله سو تر هغه وخته مي په درس کي په هیڅ شي سر نه خلاصیدی د عملیات خانې دروازه خلاصه سول او زما زړه یعني زما مور یې د علمیات خانې څخه را ویستل سپین ټوکر یې پر هوار کړی وو مور جانه مي پر تندي مچ کړل وروسته یې زما مور خپل اطاق ته یوړل زه ولاړم د پایواز په اطاق کي ورته منتظر سوم او خپل کتاب مي را واخیست د شپې تر یوې بجې پوري مي کتاب وکتی او وروسته بیده سولم.

سهار پر پینځه بجې راویښ سولم اودس او لمونځ مي وکړی وروسته مي یوه سپاره د قرانکریم تلاوت وکړی او د الله (ج) له درباره مي خپلي مور ته د شفاء غوښتنه وکړل ډیر خوشحاله سولم او خپله خور خاطره مي ورته را وغوښتل او ولاړم تر څو چي امتحان ورکړم.

د امتحان صحنې ته ورغلم استاد په عجیبه نظر راته وکتل او ویې ویل اتله څه سوي دي رنګ دي ولي داسي ژړ دی؟ ومي ویل استاده هسي- یو څه بې خوبه سوی یم امتحان چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـي ورکـړی سـيده شـفاء خـانې تـه ولاړم هلتـه بيـا د پـايوازانو پـه اطـاق کـې منتظـر سـوم لـږ وخـت نـه وو تيـر سـوی چـې نرسـه راغلل ويې ويل دغه دوا راوړه.

ولاړم تـر څـو دوا راوړم د صـفا کـار څخـه مـي پوښـتنه وکـړل! دوا خانه چيـري ده؟ هغـه را وښـودل د ځـان سره مـي فکـر وکـړی چـې راسه د يوې بـلې دوا خـانې څخـه يـې را واخلـه هغـوی راتـه وويـل چې ددې دوا مـترادف لـرو خـو دا دوا نـه لـرو پـر يـو پينځـو شـپږو دوا خــانو وگرځيــدم هغــه دوا نــه وه نــو د هغــه دوا مــترادف دوا مـي را وخيسـتل کومـه دوا چـې مـې پـه بـازار کـی را وخيسـتل دوه نـيم سـوه افغـانۍ بيـل يـې سـو دوا مـې راوړل او نـرسي تـه مـې ورکـړل او زه د پـايواز اطـاق تـه ولاړم تقريبـا لـس دقيقـې وروسـته نرسه راغله او وې ويل ډاکټر صاحب غوښتی يې.

را ولاړ سـوم نـرس تـه مـي وويـل سـمه ده درځـم نرسـه ولاړه او زه هـم د ډاکتـر پـر خـوا ور روان سـولم دروازه مـې ور وټکـول د هـا خـوا څخـه د راځـه! ږغ وسـو ور ننـوتم ډاکتـر خپـل مختـه پـرتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکۍ ته اشاره وکړل ویې ویل کښېنه! کښېنستم ډاکټر وویل دغه دوا چې تا راوړې ده هغه دوا نه ده ورته ومې ویل دوا خانه ویل همدا دوا ده ویې ویل ته کومې دوا خانې ته ولاړې ورته ومې ویل قدوسي دوا خانې ته ویې ویل ولې زموږ له دوا خانې څخه نه را واخیستل ورته ومې ویل هلته ګرانه وه ده ویل ورسه زموږ د دوا خانې څخه دوا واخله. ښه مې ورته وویل ولاړم دوا مې راوړل او ډاکټر ته مې وسپارل ډاکټر راته ویل دا نسخه هم راوړه! هغه مې هم راوړل. ډېر سترې سوی وم ولاړم تر څو یوه سترګه خوب وکړم اطاق ته به رسیدم چې په جیب کې مې ټلیفون وشرنګیده عمه مې وه ویل یې زویه مور دي اوس څنګه ده؟ ورته ومې ویل الحمدلله اوس تر پخوا ښه ده ویې ویل څه شي ته خو به ضرورت نه وي؟ ورته ومې ویل پیسې پوره دي هغه دوکان مو خرڅ کړی ویې ویل هر څه ته چې ضرورت وي راته ووایه ورته ومې ویل سمه ده.

زه هم نور پرېوتلم ترڅو بیده سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❋❋❋

نن مي د مورجـاني اتمـه وه پـه همـدې فکـر کـي اطـاق تـه روان وم اطـاق تـه لا نـه وم رسـيدلی چـي نـرسي را بږغ کـړل ول د ډاکتـر صـاحب پـه کـار يـې کلـه چـي پـه دروازه ور ننـوتم ډاکتـر صـاحب راته وويل دغه څلور رقمه سيروم راوړه .

لـه دوا خـانې څخـه مـي هغـه سـيرومان ورتـه راوړل او ډاکتـر تـه مي ورکړل.

ډاکتـر راتـه وويـل تقريبـاً دوې شـپې بعـده مـو مـريض خـارجوو ورته ومي ويل سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۲) ورځې وروسته

د پایوازانو په اطاق کې ناست وم چې نرسه راغله وې ویل ډاکټر صاحب غوښتي یې ومې ویل سمه ده درځم. ورغلم ډاکټر راته وویل تاسو باید نور خپل حساب پاک کړی پر بدن مي یو ډول لړزه راغلل. ومې ویل سمه ده ډاکټر صاحب!

کمپیوټر کار ته ورغلم کمپیوټر کار راته وویل ستا مور دلته لس شپې تیرې کړي دي او شپه په دوه نیم زره افغانۍ حسابوو ټوله حساب پینځویشت زره افغانۍ کیږي.

په جیب کې مې وکتل ټوله لس زره افغانۍ وې ورته ومې ویل! نوري به مازدیګر را ورسوم په درد یې راته وکتل ویې ویل دا هم واخله ټولي پر یوه ځای راوړه ورته ومې ویل سمه ده را ووتم الهام ته مې زنګ ور ووهه ورته ومې ویل شل زره افغانۍ درسره راوړه او موټر هم راوله تقریبا د مازدیګر څلور بجې وې چې پیسې یې را ورسولې.

د محاسبې اطاق ته ورغلم پیسې مې ورته کنبیښودلې کمپیوټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـار تقریبـا لـس دقیقـې پـه کمپیـوټر کـي اختـه وو او وروسـته یـې ووېل تلای سئ!

مـور جانـه مـي د عاجـل اطـاق څخـه راویسـته او د مریضـانو د تـګ را تـګ پـر لاره مـي را تـا کـړه. مـوټر ولاړ وو الهـام ټولـه شیان سم کړي وه د مـوټر سیټ مـو هـوار کـړ او پـه دواړو مـو مـور جانه په موټر کي پریستل او د کور پر خوا روان سولو.

کورتـه پـر لاره مـي د عمـه زوی صـابر زنـګ را ووهـه او د مـور جاني پوښـتنه یـې وکـړل ورتـه ومـي ویـل مـور جانـه مـو را خـارج کړی اوس کور ته پر لاره یو.

ویې ویل: زه به هم کـور تـه درسـم چـي ورسـیدلو مـور جانـه مـو را تـا کـړل. خـاطره مخکـي لـه مخکـي د مـور جـاني لپـاره ځـای سـم کړی وو. مور مي پر ځای سره سمه کړل.

لـس دقیقـې وروسـته دروازه وټکیـدل دروازه مـي ورخلاصـه کـړل صـابر وو د مـور خـوني تـه مـي بـوتلی. لـس دقیقـې ورسره کښینسـتم! خـاطره اشـاره راتـه وکـړل ور ولاړ سـوم! راتـه ویـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویـل اتلـه د بـازار څخـه ترکـاري، غوښـه او یـو څـه رومیـان راوړه لـه کـوره را ووتـم د مـازدیگر اذانونـه شروع وه تـر نیمایـي لاري بـه تللـی وم چـي پـه جیـب کـي مـي ټلیفـون وشرنګیـده ټلیفـون مـي لـه جیبه راویستی ملګری خالد مي وو.

تر سلام او ستړې مسې وروسته یې وویل:

ـــ ولي داسي ورک یـې؟ ورتـه ومـي ویـل پـر مـور جـاني مـي د زړه حمله راغلې وه په وارخطایي راته وویل:

ـ اوس څنګـه ده؟ ورتـه ومـي ویـل الحمدللـه اوس تـر پخـوا دغونـه ښـه ده ویـې ویـل شـکر! اللـه (ج) دي عاجلـه شـفاء ورکـړي ومـي ویل امین.

خالـد وویـل د امتحانـاتو نتـائج راوتـلي دي او د شـنبې پـه ورځ یـې غوښـتي یـو ورتـه ومـي ویـل سـمه ده چـي دا ځـل بـه مـي څـو نمـرې وړي وي ویـې ویـل یـا ان شـاءالله سـتا څخـه څـوک نسيـ مخته کیدلای له دې وروسته یې ټلیفون قطع کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

وريځـو خپـل وزرونـه د اسـمان پـر مـخ غـوړولي وه د تالانـدي غورهـارى سـو د بـاران نـرم څـاڅكي د مځكـي پـر مـخ اوريـدل د بـازار څخـه مـي سـودا را واخيسـتل كورتـه راغلـم سـودا مـي خـور تـه وركـړل دبانـدي را ووتـم اودس مـي وكـړ او پـه خونـه كـي پـر لمانځه ودريدم د لمانځـه پـر وخـت مـي د مـور ځگيـروي تـه پـام سـو لكه چـي ډيـر پـه تكليـف وي لمـونځ چـي مـي خـلاص كـړى د مـور جاني پـر تنـدي مـي لاس ور كنبيښـود تبـه يـې وه او پـر تنـدي يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله راغلې وه لاس مې د تندي څخه را ایسته کړی او پوښتنه مې ورڅخه وکړل مور جاني سر دي درد کوي؟ ویې ویل هو د صابر راته وویل ډاکتر د درد ګولي نه دي ورکړي؟ ورته ومې ویل ورکړي یې دي.وې ویل دوا یې ورکړه را ولاړ سوم او د مور جاني له دوا څخه مې ګولې را واخیستې او ور مي کړلې.

پینځلس دقیقې وروسته مې مور جانه د خوب څپو په خپلو ارامو غیږو کې واخیستل زه هم را ولاړ سولم تر څو بیده سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

د خــور وار خطــا بړغ مــي تــر غــوږو ســو ســترګي مــي خــلاصي کړلــې! نــوري چيغــي هــم ورسره ګــډې ســولې ژر ولاړ ســوم دباندي را ووتم ټول پر مــور جــاني را ټــول وه پــه وار خطــايي مختــه ورغلــم ومــي ليــدل چــي د مــور جــاني د ســترګو ســپين راوتــلي دي تــر خــولې يــې ځګــان راځــي او پــه ســتوني کــي يــې خرهاری دی پـه وار خطـايي مـي الهـام تـه زنـګ ور ووهـه چـي ژر يـو ټيکسي۔ راولـه پـه لـس دقيقـې کـي يـې ټيکسي۔ راوسـتل مـور جانـه مـو ور پورتـه کـی او د لـوي مهمنـد روغتـون پـر خـوا روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولو هلته په رسيدلو سره يې مور جانه په تذکره کي پريستل او عاجل اطاق ته يې دننه کړه.

همدا د ژوند ستره هستي وه چي دننه يې کړل زه په ځان نه پوهېدم ومي ځغستل هلته د يوه اطاق دروازه خلاصه سول يو ځوان راووتي زه يې پښو ته ورغورځېدم او زاري مي ورته شروع کړلې د ځوان سترګي د اوښکو ډکي سولې.

يو لاس مي پر اوږه ولګېدي شاته مي وکتل يوه سپين سرې ښځه ولاړه وه ويې ويل زويه پورته سه زه ستا مور يم مور به دي الله (ج) جوړه کړي ته غم مه کوه نور يې له سترګو اوښکي په بهېدو سولې او ولاړه. زه همداسي لکه لېونی د عمليات خانې پر شاوخوا ګرځېدلم چي د عاجل اطاق دروازه خلاصه سوله يوه نرسه راووتل ويل يې چي ستا پر مور جاني بيا د زړه حمله راغلې ده له ډېري ويري مي د مخ رنګ و الوتی ومي ويل څه وکړم ويې ويل ډاکټر صاحب ته ورسئ.

په تيزی سره د ډاکټر خواته ورغلم ورته ومي ويل څه وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر صاحب؟ ويې ويل تر دوو ورځو پورې يې مور په سيرومانو او دواو ساتلای سو تاسو يې سمدستي پاکستان ته ورسوئ ومي ويل سمه ده تر ماښامه پورې مي مور په هوش کي راغلل تر سترګو مي اوښکي راغلې ورغلم او تر څنګ يې کښينستم د مور جاني تر سترګو مي هم اوښکي را رواني سولې ويې ويل زويه څنګه يې؟ ومي ويل ښه يم مور جاني اوس دي حالت څنګه دی ويې ويل اوس لږ څه ښه يم.

ومي ويل مور جاني سبا سهار دخيره روانيږو پاکستان ته.

- ويې ويل څه؟

ــ ومي ويل پاکستان ته ځو له سترګو يې اوښکي په بهيدو سولې مخ يې بلي خواته واړوی له ځان سره يې وويل کاش موږ داسي ډاکټران درلودای چي بهر ته د تګ ضرورت نه وای.

همدلته مي د ځان سره پريکړه وکړل چي له ځانه به د زړه نامتو ډاکټر جوړوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مـــي ډيــر درد کــوي د خپــل هيــواد حالــت مــي ســترګو تــه ودريدی له څه خبرو اترو وروسته مي مور ته وويل مور جاني زه بـه تاتـه ډوډۍ راوړم. نـور ولاړ سـولم مـور تـه مـي وويـل مـور جاني ته استراحت وکړه پلار تـه مـي زنـګ ور ووهـه چـي خـاطره راولـه خـاطره يـې راوسـتل. خـاطره مـي مـور تـه کښـينول او خپلـه ولاړم تر څو مور ته ډوډۍ راوړم.

لاندي تا سوم په بـازار کـي يـو ډول شـور ماشـور وو د اسـمان مـخ وريځـي نيـولی وو زه ولاړم مـور تـه مـي څـه پيـرني را واخيسـتل خپلـه مـي ډوډۍ خواتـه نـه کيـدل د خـاطره لپـاره مـي يـو څـه وريجـي او يـو څـه ډوډۍ را واخيسـتل راغلـم د هسـپتال پـه څينـو کـي پورتـه سـوم د اطـاق دروازه مـي خلاصـه کـړل ډوډۍ مـي د خـاطره پـه لاس ورکـړل خـاطره تـه مـي وويـل اوس وختـي بيـده سي سهار وختي سفر لـرو نـور زه هـم ولاړم د پـايوازانو پـه اطـاق کي بيده سولم تر څو سهار وختي را کښېنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

د بــاران شــورهارى او د مرغــانو چغهــارى وو دبانــدي را ووتــم د گلانـو سـهارنى وږم پـه هـوا كـي خپـور وو لـوړ مـي وكتـل او فكـر مي كوى چي اسمان هـم زمـا پـر حالـت بانـدي ژاړي ددا هيـواد پـر حالــت بانــدي ژاړي ولاړم اودس، لمــونځ او تــلاوت مــي وكــړى پورتـه سـوم او د مـور جـاني اطـاق تـه ولاړم. مـور جانـه مـي لـه خوبه راپاڅول.

خاطره ته مـي وويـل چـي بيكونـه تيـار كـړي ولاړم لانـدي تـا سـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بازار کې بړغ بړوغ وو هلته په موټرانو پسې وګرځېدم د پاکستان تر باډره پورې مې موټر کرایه کړ بیکونه مې راواخیستل لاندې را تا سولو په موټر کې سپاره او د پاکستان پر لورې مو خپل سفر پیل کړ.

خاطره او مور شاته ناستې وې زه مخته ناست وم بیکونه په ډکۍ کې ایښې وه پر لارې موټر وان بحث کوی او د جنګو څخه یې سر ټکوی زما زړه بیا په یوه بله دنیا کې وو خپل د مور جانې ناجوړې مې سترګو ته ولاړه وه فکر مې کوی که یې چیرې مصرف ډیر سو څه به کوم ځکه زما سره په جیب کې یو نیم لک افغانۍ پاته وې نورې ټولې پیسې راسره خلاصې سولې.

د موټر پر هنداره څک، څک باران اوریدی او موږ خپل مزل ته دوام ورکړی وو تقریبا دوه ساعته وروسته د پاکستان باډر ته ورسیدلو د موټره څخه کښته سولم او د بل موټروان څخه مې پوښتنه مې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اغا خان هسپتال ته مو په څو بیایې؟

ـ ویې ویل! په پینځه سوه کالداري!

ټوله موټر ته ور پورته سولو او د اغا خان هسپتال پر لوري مو موټر روان کړی.

هلته چي ورسیدلو زما مور جانه یې سیده عاجل اطاق ته ننیستل د همدې ورځي ماښام ته یې زما مور راویستل فکر مي کوی چي پیسې به څو سي؟ نرسي نسخه په لاس کي راته ونیول راته وې ویل! دغه دوا راوړه.

لاندي تا سوم په نسخه کي فقط دوې لیکي خط لیکلی وو دواخانې ته ور ننوتلم او نسخه مي ورته ونیول فقط دوه پاکټه ګولۍ یې راکړلې ومي ویل هغه نور؟ ول نوره دوا نسته او نه هم موږ چاته اضافه دوا ورکوو.

له ډیري خوشحالۍ څخه ما ویل چي وزرونه وکړم او مور ته ورسم او زیری پر وکړم دوا مي راو اخیستل را ووتلم او اغا خان هسپتال ته ور وختلم دوا مي نرسي ته ورکړل را تا سوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرسه بیا راغلل ویې ویل د محاسبې اطاق ته ورسه او حساب تادیه کړه.

زړه مي ډیر لړزیدی او د محاسبې اطاق ته ورغلم کمپیوټر کار په کمپیوټر کي اخته سو . وې ویل! ستاسو د مریض نوم څه دي؟ ومي ویل حسنات پسي۔ زیاته مي کړل ښاغلیه! موږ په ډیره غریبه طبقه کي یو زه خپله متعلم او پلار مي چوکیدار دی. پلار مي د ټوله کورنۍ سرپرستي کوو. که لږ ښه راسره وکړې.

ویې ویل ورسئ مخامخ شعبې ته ورسئ مخامخ شعبې ته چي ورغلم هلته یو چاغ سړی ناست وو دریشي۔ یې پر تن وه سره نیکټایي یې تړلې وه سلام مي ورته وواېه عینکي یې له سترګو څخه ایسته کړلې او پورته یې راته وکتل ولاړ سو سترې مسې یې راسره وکړل وې ویل کښېنئ! کښېنستم.

ورته ومي ویل هلته د محاسبې په اطاق کي یې راته وویل چي مخامخ شعبې ته ورسه څو بیلابیلي پوښتني یې وکړلې ویل یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـوم دي څـه دی؟ ومـي ویـل نـوم مـي اتـل دی ول کـورنۍ وضـعه مو څنګه ده؟ ما ویل پـه ډیـره غریبـه طبقـه کـي یـو ویـې ویـل دغـه ستاسـو د عملیـاتو پیسـې یـو لـک او شـل زره افغـانۍ سـوي دي خـو ستاسـو غربـت پـه کتلـو بـه ستاسـو څخـه اتیـا زره افغـانۍ واخلو.

ډیـر خوشـحاله سـوم ومـي ویـل ډیـره مننـه ورغلـم پیسـې مـي لـه جیبـه څخـه ورتـه را وکښـلې او ور مـي کړلـې کمپیـوټر کـار پـه کمپیوټر کـي اختـه سـو! د کمپیـوټر کـار سـترګو تـه چـي مـي وکتـل نـو د خپـل هیـواد هغـه کمپیـوټر کـار را پـه یـاد سـو چـي پـه لـوی مهمند هسپتال کي اختـه وو. او د هغـه رویـه مـي پـه یـاد سـول. یـو اه! مـي د ځـان سره وکـېښ! ده تـه وګـوره دغـه کمپیـوټر کـار څومره با تربیه او بـا ادبـه دی او هغـه بـل کمپیـوټر کـار څـومره بـې تربیـه او بـې ادبـه وو لـه ځـان سره مـي فکـر وکـړی زمـوږ مشرـان چي د سیاست نـاري وهـي او تـر ټولـو غـټ دښـمن پاکسـتان بـولي صحیح ده دښمن بـه مـو وي خـو دلتـه د دښـمنۍ مسـئله یـوې خـوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مګر هر فرد ولي پاکستان ته روان دی؟ ولي د تداوي لپاره پاکستان ته ځي؟ ايا په موږ کي دومره زور او طاقت نسته چي يو نامتو ډاکتر ولرو؟

تر زړه مي ويني څڅيدلي په همدا خيالو کي وم چي کمپيوټر کار بږغ وکړی ورقه مي واخيستل را ووتلم.

د مور اطاق ته ورغلم او ورته ومي ويل مور جاني اوس څنګه يې؟ ويې ويل اوس ښه يمه تر پخوا ډيره ښه يم شکر الحمدلله له دې دوا سره مي ډير فرق وکړی نرسه مخي ته راته ودريدل ويې ويل ډاکټر صاحب غوښتي ياست ولاړ سوم له اطاق څخه را ووتم نرسه تر مخه او زه د شا په پسې وم نرسه د يو اطاق مخي ته ودريدل ويې ويل دغه د ډاکټر صاحب اطاق دی ومي ويل صحيح ده مننه.

دروازه مي ټک، ټک کړل د هغې خوا څخه د مهرباني بږغ وسو او ور ننوتم تقريبا يو د پوخ عمر سړی، کوچنۍ عينکي يې پر سترګو، ډبل بريتونه او غټه بږيره يې وه پر يوه اوږده چوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي ناست وو ویې ویل مهرباني وکړی کښېنئ!

ـ ومي ویل مننه! کښېنستم.

ویې ویـل ستاسـو مـریض بـه ان شـاءالله تـر دوو ورځـو پـوري رک روغ سي نور یې خـارجولای سئ ومـي ویـل مننـه کـوم ویـې ویـل نـور کـوم خـدمت درتـه وکـړو؟ ومـي ویـل مننـه، خیـر یوسـی، اللـه (ج) دي خیـر در کـړي را ووتـم لـه سـترګو مـي اوښـکي پـه بهیـدو سـوې لـه ځـان سره مي فکـر وکـړی کـاش زمـوږ د وطـن ډاکټـران هم همدا ډول وای.

تـر هسـپتال لانـدي را تـا سـوم ډیـري ګاډیـاني ولاړي وي یـو څـه میـوه او وریجـي مـي را واخیسـتي بیرتـه لـوړ وخـتم د مـور جـاني د اطــاق دروازه مــي خلاصــه کــړل ډوډی، وریجــي او میــوه مــي خـاطره تـه ور کـړل زه ولاړم د پـایوازانو پـه اطـاق کـي منتظـر سـوم او پـه هغـه اطـاق کـي پریـوتم سـترګي مـي د چـت پـه پنکـه کـي ګنډلي وې همداسي مي سترګي سره ورغلي وې.

د خوبونو پـه دنیـا کـي ویـنم چـي یـو کښـتي پـه سـمندر کـي روانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي ناڅاپه سمندر توپاني سي او کښتي غرقېدو ته نږدې سي يو سپين ږږي نوراني سړی راسي کښتي له غرقېدو وژغوري و راته ووايی زويه ته کولای سې په تعليم سره خپله کورني وژغورې له ځانه داسي څوک جوړ کړه چي خدمت وکړي نه داسي څوک چي د وطن غوښي وخوري. پر تاسو به ډېر سخت حالات راسي خو د تعليم لمن مه پرېږده.

سترگي مي خلاصي کړلې د شپې څلور بجې وې ولاړ سوم اودس او لمونځ مي وکړی او همدا ډول تلاوت مي وکړی لاندي تا سوم د مور جاني اطاق ته ورغلم هغوی مي هم لمانځه ته را پاڅول ورته ومي ويل مور جاني که ستا اجازه وي زه به لږ په بازار کي وگرځم که مي يو شی خوښ سو را به يې نيسم ماښام ته د سفر امادگي ونيسئ روانيږو.

ويې ويل سمه ده اتله زويه خدای دي خير در کړي لاندي راتا سوم په بازار کي وگرځيدم غرمه يو مسجد ته ورغلم لمونځ مي وکړی تر مازديگره پوري گرځيدم او مازديگر بيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسپتال ته راغلم هلته مې بیکونه او شیان سره تیار کړل تر هسپتال را تا سولم او یو موټر مې تر هډې پوري کرایه کړی پکښې سپاره سولو او روان سولو.

د یوې خواد مور جاني په تداوي باندي ډیر خوشحاله وم او د بلي خوا د ماښام خوب ته ډېر اندېښمن وم موټر مو د ویش په طرف روان کړ هډې ته چې ورسیدلو د موټرانو ګڼه، ګوڼه وه هلته را تا سولو یو موټروان راته وویل کندهار ته ځئ؟ ومې ویل هو ویې ویل راځئ څه ته ګورئ؟ موټر ته ور پورته سولو بیکونه مو ډکۍ ته پورته کړل او د کندهار پر خوا روان سولو.

ټلیفون مي په جیب کي وشرنګیدی پلار جان مي وو ویې ویل د مور مریضيـ دي څنګه ده؟ ومې ویل اوس الحمدلله ډیره ښه ده دادی اوس کندهار ته در روان یو د حیرانتیا په بڼغ یې وویل څه! کندهار ته را روان یاست؟ ومې ویل هو پلار جانه ویې ویل هلته په لوی مهمند کي یې لا اته شپې بستر کړې وه دلته خو یې حد اقل باید یو لس شپې بستر کړې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي ویل نه پلار جانه! دوا یې هم ډېري لږ راکړله او تر لوی مهمند دلته مصرف هم ډیر کم وسو.

ډیر خوشحاله سو او ویې ویل اوس یې مریضۍ څنګه ده؟

ومي ویل اوس الحمدلله ډیره ښه ده له څه خبرو اترو وروسته موخدای پاماني سره وکړه او ټلیفون یې بند کړ .

موټروان په موټر کي یوه سندره لګولې وه او موټر د کندهار پر لور روان وو.

کندهار ته ورسیدلو له موټره تا سولو او یو بل ټیکسۍ ته مو لاس ورکړی. ټیکسۍ ته ور وختلو او د خپل کور ادرس مو په لاس ورکړی کور ته ورسیدلو.

خاطره ژر ولاړل د مور جاني ځای یې ور سم کړی او مور جانه مو پر خپل ځای پریستل له ځان سره مي حساب وکړی فقط څلویښت زره را پاته وې او په هغه کي لس زره د کور د کرایې وې او لس زره د کور مصرف غوښتې او شل زره تقریباً په پورو کي سره تللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيسې مې سره را بيلې کړلي او فکر مې وکړی چې نور به زه څه ډول د کور مصارف مختته يوسم؟ هيڅ لار په نظر نه راتلل بيله دا چې زه بايد ځان ته يو کار پيدا کړم تر کور دباندې راووتم او پر لاره روان وم چې په جيب کې مې ټليفون وشرنگيدی را پورته مې کړی خالد وو.

د سلام او جوړ پخير وروسته يې د مور جاني پوښتنه وکړل او ويې ويل مور جانه دې اوس څنگه ده؟ ومې ويل اوس الحمدلله ډيره ښه ده ويې ويل ځه شکر دی او د مکتب نتائج هم را وتلي دي دا ځل دې بيا اول نمرگي نيولې ده هيڅ باور مې نه راتلی ومې ويل دا ځلي مې اول نمرگي ونيول؟ دا ځل خو زه په ډيرو مشکلاتو کې وم.

ويې ويل باور وکړه اتله! ورته ومې ويل ډيره مننه! ويې ويل سږ کال خو دولسم ته هم کاميابه سوی يې ومې ويل هو څنگه به وکړم؟ په ټليفون کې مو څه نوري خبري هم سره وکړلې او نور مو ټليفون بند کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيرته د کور خواته را وگرځيدم پر لاره مي فکر وکړی بايد يو کار ځان ته پيدا کړم تر څو د کور او مکتب مصارف پر مخ يوسم دا چي پر کال زموږ کانکور هم وو بايد د کانکور امادگي مي هم شروع کړې وای.

هيڅ نه پوهيدم چي څه وکړم؟ اخري فيصله مي دا وکړل چي د جمعې په ورځ به روزانه کوم تر څو د راتلونکي هفتې پيسې د ځان سره برابري کړم همدا اراده مي له ځان سره پخه کړل.

زموږ په صنف کي انجوني هم راسره گډې وې د صنف اول نمره به عموما زه وم او دوهم نمره به عموما يوه انجلۍ وه چي نوم يې هيله وه. له ډيري شتمني کورنۍ څخه وه. له پيسو څخه مي درې زره افغانۍ را جلا کړلې او له ځان سره مي وويل چي سبا کانکور امادگي هم شروع کوم سبا پر اووه بجې باندي روان سولم او د مکتب کتابونه مي هم واخيستل او ولاړم د کانکور په امادگي کي مي داخله وکړل.

ژوند همداسي پر مخ روان وو د جمعې په ورځ به مي روزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـول، پـه مکتـب کـي مـي هـم درس وایـه او پـه سـنټر کـي مـي د کانکور امادګي هم ویل.

یـوه ورځ د جمعـې پـه ورځ پـر چـوک د نـورو مزدورانـو سره ولاړ یم یـو نـوې لکسـل را کـاڼ سـول او ودریـده زه هغـه بغـل تـه ولاړ وم پـه ټولـو مزدورانـو کـي یـې ماتـه اشـاره وکـړل ول ځوانـه راسـه ورغلم ومي ویل څه شـی دی؟ ویـې ویـل پـه کـور کـي لـږ کـار دی کولای یـې سې؟ ومـي ویـل ولي یـې نسـم کـولای حـتمن یـې کـوم ویې ویل موټر ته را وخیږه.

مـوټر تـه ور وخـتم مـوټر یـې روان کـړی کورتـه چیورسـېدو ویـې ویل دغـه شـل ګـونۍ وریجـي او پینځـه خلویښـت ګـونۍ غـنم دي نن سهار را ورسیدل دا بـه پـه دا پسـخانه کـي سره ځـای پـر ځـای کړې ومي ویل سمه ده پر دواړو سترګو!

مـاځیګر آذانونـه شروع سـول مـا هـم نـور د کـار کـالي الـیش کـړل او په ګـډوه مـي اودس تـازه کـړ هغـه سـړی راغـلي کـار یـې وکتـي نور یې جیب تـه لاس کـړ تـر څـو پیسـې راکـړي پـه دا وخـت کـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي يو ږغ واوريـدی چـي مـخ مـي ور واړوی هغـه هيلـه وه زمـوږ د صنف دوهم نمره دواړه لـه ډيـري حيرانتيـا څخـه هـک پـک سـولو پـدې وخـت کـي هـيلي خپـل پـلار تـه وويـل پـلاره! دی دلتـه څـه کوي ؟ پـلار يـې وويـل ولي لـوري دی خـو مـزدور دی. هـيلي پـلار ته وکتـل پـلاره دی مـزور نـه دی زمـوږ د صـنف اول نمـره دي پـلار يـې پـه ډيـري حيرانتيـا ماتـه وکتـل زويـه ريښـتيا! تـا ماتـه وختـي ولي نه ويـل! لـه څـه پوښـتونو وروسـته يـې راتـه وويـل زويـه ددې وروسته به ته روزانه نه کوې ومي ويل!

ـ خو پدې سره زموږ ژوند روان دي!

ــ وې ويـل! لـه دې وروسـته هـره مياشـت راځـه زه شـپږ شـپږ زره افغاني درکوم تر هغـو چـي سـتا مکتـب خلاصـيږي مصرـف دي زمـا پر غاړه دي.

ژوند همـداسي تيريـدی او د دغـه کـال تـر پايـه بـه ورتلـم او پيسـې به مي ورڅخه اخيسـتې خـو ډيـر بـه شرميـدلم د کـانکور امـادگي بـه مي تر نيمايي پـوري رسـيدلې وه چـي يـو ځـلي بيـا مـي پـر مـو د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمله راغلل دا ځل مي بیا پاکستان ته بوتلل نور لار او ګودر را ښخه ورک وه حیران وم څه وکړم ژوند پر دا ډول مخته نه تلی. د هیلي پلار مي په ځان نه کړی خبر او بیرته مي روزانې ته مخه کړل ددغه کال تر پایه پوري نور د هیلي پلار ته نه ور تللم هیلي څو ځلي راته وویل اتله ولي زما پلار ته نه ورځې؟ که شرمیږې زه به پیسې ورځخه را اخلم او در کوم به یې ورته ومي ویل نه هیلي نور زه هم ځوان یم باید پخپل موټ پیسې وګټم او خپل ژوند خپله مخته بوځم تر ابده پوري څو به ستا د پلار څخه پیسې نه اخلم.

په دا خبره سره به هیله ډیره خوابدې سوله تقریبا یوه هفته وروسته ټلیفون ته زنګ راغلی چې اوکې مي کړی نابلده سړی وو ویې ویل زه د هیلي پلار یم څنګه یاست ښه یاست؟ خبري مي ورسره وکړلې ویې ویل د جمعې ورځې ته راسه پکار مي یې ومي ویل سمه ده.

د جمعې ورځ وه ور روان سولم او ورغلم هلته چې ورسیدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه مـي ټـک، ټـک کـړل دروازه هـیلي خلاصـه کـړل زه ورغلـم پـلار یـې پـه برنـډه کـي ناسـت وو راتـه وې ویـل راځـه راځـه اتلـه زویه دلته زمـا بغـل تـه کښـینه ورغلـم او بغـل تـه یـې کښینسـتم تـر سـلام او روغبـړ وروسـته یـې وویـل  دا څـو میاشـتي ولي پـه پیسـو پسيـ نـه راغلـې؟ ومـي ویـل بابـا زه هـم نـور ځـوان یـم بایـد خپلـه کار وکړم تر ابده خو بـه سـتا څخـه پیسـې نـه اخلـم ویـې ویـل ښـه نـو بیـا بـه یـو بـل چـم وکـړو زمـا یـو ملگـری دی د هغـه زوی تـه درس وایـه د میاشـتي اتـه اتـه زره افغـانۍ درکـوي هغـه تـه درس وایـه. ډیـر خوشـحاله سولم فکـر مـي وکـړی لکـه وزري چـي مـي وکړلـې غوښـتل مـي دا زیـری ژر پـر مـور جـاني او پـلار جـان باندي وکـړم لـه څـه خبرو وروسـته مـي خـدای پـه امـاني ورځخـه واخیسـتل او را ووتلـم ولاړم او دا زیـری مـي پـر مـور جـاني او پلار جان باندي وکړی.

دوې ورځـي وروسـته د هـیلي پـلار زنـگ را ووهـه او ویـې ویـل اتلـه زویـه هغـه نفـر زنـگ را وهلـی وو!  ویـل یـې دا اسـتاد را

(c) ketabton.com: The Digital Library



معرفي کړه ومي ويـل کـور يـې چيـري دی؟ زه بـه خپلـه ورسـم ويـې ويل غرمه دواړه ورځو ومي ويل سمه ده.

د غرمې شا و خوا وه چـي د هـيلي کورتـه ورغلـم پـلار جـان يـې پـه مـوټر کـی کښـينولم او دواړه د هغـه نفـر کـور تـه روان سـولو هلتـه د شـاګردانو د پـلاره سره کښينسـتلو. خپـل زامـن يـې راتـه معـرفي کړل يـو ايمـل وو او بـل يـاسر وو تـر څـه خـبرو اتـرو وروسـته مـو اته زره افغانۍ ورته وويلې.

هغه نفر وويل سـتا غريـب وضـعيت پـه کتـو سره زه تاتـه اتـه زره نـه بلکـي لـس زره افغـانۍ درکـوم ډيـر خوشـحاله وم. ژونـد همـداسي پـر مـخ تلـی د کـانکور امـادګي هـم خلاصـه سـول او د کـانکور امتحان مي ورکړ طب پوهنځي ته کامیابه سوی وم.

زمـا اول انتخـاب د کابـل طـب وو دوهـم انتخـاب مـي د کنـدهار طـب وو همـداسي مختـه ډيـر خوشـحاله وم او ژونـد مـخ پـر ښـه کيـدو وو د طـب پـوهنځي د دوهـم کـال څخـه فارغـه کيـدلم چـي الهام هم د کـانکور امتحـان ورکـړی د کـانکور پـه نتـائجو کـي هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم طب پوهنځي ته کامیابه سوی وو.

ایمل او خالد ته مي همداسي درسونه ویل. زما دطب پوهنځي اخري سمیستر پر خلاصیدو وو یوه ورځ د ایمل پلار راته وویل زویه غواړې چي د تخصص لپاره ترکیې ته په بورس کي ولاړ سې؟ ومي ویل ولي نه ځم ویې ویل سمه ده د تخصص امتحان به ورکړې نور کار خلاصیږي ډیر خوشحاله سوم ومي ویل سمه ده. امتحان مي ورکړ.

درې ورځي وروسته یې زنګ را ووهی ویې ویل پاسپورټ، ویزه او نور شیان دي سره برابر کړه کامیابه سوي یې په راتلونکې هفته کي دي سفر دی ډیر خوشحاله سوم.

دوې ورځي تیري سوې چي پر یوه نامعلومه شمیره زنګ راغلی ټلیفون چي مي پورته کړی د هیلي پلار وو ویې ویل!

ـ زویه یو ځل راسه پکار مي يې ومي ویل

ــ سمه ده! ورغلم ویې ویل زویه ماشاء الله دادی نور ډاکټر سولې مور دي په مرکه راواستوه. ډیر وشرمېدم. ومي ویل! هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې چې ستاسو خوښه وي.

ماښـام چـې کورتـه راغلـم د مـور جـاني سره مـې دا خـبره شريکـه کړل په سبا مې مـور جانـه ورغلـل او د هـيلي دسـتمال يـې راوړی پـه کـور کـې دوې خوشـحالۍ سره يـو ځـای سـوې دوې ورځـې وروسته د تخصص لپـاره ترکيـې تـه روانيـدم او پـه نـن ماښـام يـې د هيلي دستمال راوړی.

لـه خدايـه ډيـر راضي وم او ژونـد پـه ډيـر ښـه ډول مختـه روان وو الهام هم طب پـوهنځي تـه کاميابـه سـوی وو د پـلار جـان يـوه، يـوه خـبره مـې را يادېـدل د خوشـحالۍ پـه خونـد هغـه وخـت پـوهيږې چې غـم دربانـدي تيـر سـوی وي او سـختۍ دربانـدي تيـري سـوي وي.

لـه څلـور کـالو تخصـص څخـه وروسـته زه خپـل وطـن تـه راغلـم لـومړی مـې د خپـل پـلار جـان او مـور جـاني لاسـونه ور مـچ کـړل دوې ورځـې مـې پـه کـور کـې اسـتراحت وکـړ او نـور لـوی مهمنـد ته ولاړم او په لـوی مهمنـد کـې د يـو نـامتو ډاکټـر پـه صـفت د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جراحۍ متخصص وظیفه راکړل.

میاشتنی معاش مي یو لک افغانۍ او په هره عملیات کي نیمی پیسي زما او نیمی پیسي د هسپتال وې ژوند په ډیر ښه ډول پر مخ روان و. یو کال وروسته زما او د هیلي واده وسو او نور د تل لپاره خوشحالیانو موږ ته مخه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

یوه ورځ روغتون ته ننوتلم یوې بوډۍ مي تر پښو لاسونه راوګرزول وې ویل زویه غریبه یم کومک راسره وکړه! مورې غریبان یو! تر لاس مي ونیول راپورته مي کړل سترګو ته مي یې چې وکتل یو ډېره زړه لړزه ونکې صحنه مي سترګو ته ودرېدل هغه ورځ په کوم کي چې زما پر مور د زړه حمله راغلې وه زه لکه لېونی یوې او بلي خواته به مي ځغستل هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا به چې ماته وکتل نو تر سترګو به یې اوښکې تللې هیڅوک هم نه وه چې ماته دلاسایی راکړي یوازې همدا سپین سرې وه چې ماته یې دلاسایی راکړل ومې ویل موري پورته سه! څه مشکل دي راته ووایه په ژړا یې راته وویل زویه کوچنۍ لور مې مریضه ده د زړه عملیات غواړي خو زه د دومره پیسو وس نه لرمه! هر چاته ورغلمه خو هیچا هم زما خبرو ته غوږ ونه نیوي زویه یو ځلې هغه کمپیوټر کار ته ورغلمه خواست او زارۍ مې ورته وکړلې خو هغه ډیرې بدې خبرې راته وکړلې! او په ټپلو ټپلو یې د هغه ځایه څخه راوایستلم زویه خدای ته مې امید دي تاته مې امید دي یو لاره راوښوه تر څو زما د زړه ټوټه جوړه سي د بوډۍ خبرو زه یو ډېر لیرې وخت ته ودرولم هغه وخت په کوم کې چې زما د زړه پر ټوټې د زړه حمله راغلې وه او زما سره پیسې نه وې د بوډۍ په بړغ را په خود

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولم راته ويې ويل زويه ته ژاړې! بوډۍ مي تر لاس ونيول راپورته مي کړل ورته ومي ويل موري راځه زما سره!

د مدير د اطاق خواته ور روان سولم او دروازه مي ټک ټک کړل له هغې خوا د مهرباني راځۍ! ږغ وسو دروازه مي خلاصه کړل مدير عينکي پر سترګو کړي وې او يو مجله يې کتل د مجله څخه يې سترګي راپورته کړلې وې ويل اُو ډاکټر صاحب تاسي! راولاړ سو او ټينګ يې په غېږ کي ونيولم پر ملا يې ټپ راکړ وې ويل راځه کښېنه! ولي ولاړ يې! په دې وخت کي بوډۍ هم اطاق ته راننوتل ورته ومي ويل راځه موري کښېنه بوډۍ کښېنستل مدير ته مي وويل ته يو کار وکړه نور د کمپيوټر کار له اخلاقو تر پزي راغلي يم يا دي نور اخلاق سم کړي يا دي استعفا ورکړي مدير راته وويل زه به يې راوغواړم ته يوڅو خبري ورته وکړه که نسو اصلاح نور د کاره جواب دي. ومي ويل صحيح دي ټيليفون يې راپورته کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپیوټر کار ته یې زنګ ور ووهلې او ورته وې ویل ژر زما اداري ته راسه دوه دقیقه بعد دروزه وټکېدل مدیر د راځئ ږغ پر وکړ دروازه خلاصه سول کمپیوټر کار رانوتي مدیر ورته وویل کښېنئ! کمپیوټر کار چي بوډي ته وکتل نو د مخ رنګ یې ژړ سو مخ مي ور واړوي ورته ومي ویل:

ـ ښه محترمه دا پېژني! ده په ترټړي ژبه وویل ه...ه.....ه...هو دا...دا یواري درمخه زما دفتر ته راغلې وه ویل یی پیسې را لږ کړه!

ـ په تمسخر مي وویل جنابه! نو تا څه ورته وویل!

ـ وې ویل م.....م.....ما ورته وویل چي ووځه!

په درد مي ورته ووی د پایوزانو سره سرې داسي کوي سترګي یې کښته واچولې ورته ومي ویل نن دي دداسي کارو اخیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ وه که بله ورځ ماته دداسي شکایت خبر راغلي نو نور د کاره جواب یې! وې ویل سمه ده ښاغلې!

ومي وی نور تلی سې دی ولاړ سو په جېب کي مي لاس ننیستي پیسې مي را وکښلې او بوډي ته مي ورکړلې نور د مدیر له اطاقه راووتم او خپل د کور پر خوا روان سوم فکر مي ډېر خراب و.کور ته چي ورسېدم دروازه مي وټکول. دروازه الهام خلاصه کړل کور ته ورننوتم خپلي خوني ته ولاړم لږ وخت وروسته دروازه خلاصه سوله د هیلي ږغ مي واورېدي ویل یې پورته سه شیدې مي درته راوړې را پورته سوم دې ګیلاس راکړ وې ویل یو خو ته هم هر وخت په فکر کي یی نن دي بیا په چشي طبیعت خراب دي ومي ویل هره ورځ له غریبانو سره مخ کېږم زړه مي ډېر درد پر کوي خو څه وکړم هسپتال زما نه دي چي مفت یې عملیات وکړم نه پوهېږم څه وکړمه بیخي لار را څخه ورکه ده. هیلي راته وکتل او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل ولي یو خیریه بنسټ نه جوړوې سترګي مي ورپورته کړلې ومي ویل واه څونده ښایسته فکر!

په سبا مي د ځینو خلګو په مشوره سره یو ځاي مځکه رانیول او د اتل خیریه بنسټ په نامه مي یو خیریه بنسټ جوړ کړ او د خلګو خدمت ته مي وړاندي کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❊ ❊ ❊

او بالاخره هغه خوب مي یاد ته راغلي کوم چي له نن څخه دولس کاله مخکي ما لیدلی وو هغه خوب په کوم کي چي یو سپین بږري سړی راسي راته ووایی زویه ته کولای سې په تعلیم سره خپله کورني وژغورې له ځانه داسي ځوک جوړ کړه چي خدمت وکړي نه داسي ځوک چي د وطن غوښي وخوري. پر تاسو به ډېر سخت حالات راسي خو د تعلیم لمن مه پرېږده. او بالاخره د تعلیم په واسطه دادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ کورني له کم حالت څخه کم حالت ته راورسېدل.

غوښتل مي چي خپل هيواد ته خدمت وکړم او دا مي يوازنۍ هيله ده

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یاداښت

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یاداښت

..................................................

..................................................

..................................................

..................................................

..................................................

..................................................

..................................................


..................................................

..................................................

..................................................

..................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال پېژندنه

فرهاد احمد صدیقي د فریدون صدیقي زوي او د
مرحوم حاجي صدیق صدیقي لمسی دي چې په
۱۳۸۸ه.ش کال په کندهار زېږېدلي دي.
اسلامي زده کړې یې د کندهار په ځینو مدرسو
او لومړني عصري زده کړې یې په آشنا عالي
لېسه بیا په ویسا اکاډمي او فِالحاله د کندهار
شاه حسین هوتک افغان ترک د هلکانو عالي لېسه
د دولسم ټولګي زده کوونکي دي. اصلي د کابل
اوسېدونکي خو فِالحاله په کندهار کې ژوند
کوي. نوموړي اوس ۱۶ کلن او تر ټولو لوي
ارمان یې خپل هیواد او مورني ژبې ته نه ستړي
کېدونکي خدمت دي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**